سر یال نمبر: 307

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# په خیبر پښتونخوا کې د بهته خوریې پر ضد د امنیتي ادارو لخوا د موثرو عملیاتو پیل

د خوارج اصلي کار د مذهب تر په لړ کي بهته خوري او په اجرت قتلونو له لارې د حرامو شتمنیو راټولول او په افغانستان کې د پټو بدکارو او غدارو مشرانو او د هغوی د کورنیو لپاره د عیش او عشرت سامان برابرول دي۔

**د تایید شویو راپورونو له مخې، د ټي ټي پی سره تړلې ټولې ډلې د بهته خوریې منظمې شبکې چلوي، چې د علیم خان خوشحالي او حافظ ګل بهادر ډلې په سر کې دي۔ ترهګرې ډلې د سوداګرو او ترقي شرکتونو او تهیکدارانو څخه په بهتو اخیستلو کې لاس لري چې په مختلفو سیمو کې په مهمو پروژو کار کوي۔**

د بهته خوریې د زیاتوالي لاملونه په لاندې ډول دي:

- **د افغانستان د خرابېدونکي اقتصادي وضعیت او د بهرنیو مرستو د کمښت له امله په بهته خوریې د ټي ټي پي انحصار مخ په زیاتیدو دی۔**
- **د مهمو پرمختیایي پروژو تهیکدارانو څخه بهتی اخیستل کیږي او افغانستان ته استول کیږي۔**
- **اولس، سوداګر او تهیکداران چې په ترقیاتی پروژو کار کوي د بهتو له ګواښونو ویره لري او د راپور ورکولو څخه ډډه کوي۔**

**د خیبر پښتونخوا انټي ګریټډ سیکورټي آرکیټیکچر (KPISA) له وروستۍ غونډې وروسته په تېرو دوو ورځو کې د بهته خورانو پر ضد اغېزمن عملیات پیل شوي او په تېرو دوو ورځو کې ګڼ شمېر کسان نیول شوي دي، چې په ترڅ کې یې له مردان او پېښور څخه د ټي ټي پي دوه مهم بهته خواره هم نیول شوي دي۔**

د بهته خوریې پر وړاندې د خلکو همکاري ډېره مهمه ده ځکه هغه کسان چې د پیسو په ورکولو سره د بهته خورانو حوصله افزایي کوی په حقیقت کې د ترهګرو په معاونت کې لاس لري او پر ضد یې عملیات پیل شوي دي۔

مورخه: ۱۸ ستمبر ۲۰۲۳ء

www.publicvoice.pk